# ملي پولي واحد او په افغانستان کې د افغاني بانکنوټونو د چاپ تاریخچې ته لنډه کتنه

**لیک: استاد تاج محمد تمکین**

پـولي واحـد د یـو هیـواد د هویـت نماینـدګی کـوی ، د پـولي واحـد کاریدنـه سیاسـی او اقتصـادي ګتـې لـري چـې د هـر هیـواد لپـاره خـورا مهمـې دي ، پـه نـړۍ کـې ټـول هیوادونـه هڅـه کـوي ترڅـو خپـل مـلي واحـد باثباتـه وسـاتي او د همـدې مـوخې لپـاره مختلـف پـولي سیاسـتونو څخـه کـار اخـلي د یـو هیـواد لپـاره مـلي پـولي واحـد کاریدنـه اړینـه او ضروري، د مـلي پـولي واحـد د کـارولو څخـه ثـابتیږي چـې د یـو هیـواد پـولي سیاسـت څـومره اغیـزمن او ښـه لـور تـه روان دی. پـه یـو هیـواد کـې د مـلي پـولي واحـد د کـارولو لـه لارې لانـدې نقـاط پـه مثبتـه توګـه یادولای شو چې په ملي اقتصاد زیات مثبت اغېز غورځوي.

د بهرنیـو پـولي واحـدونو د کاریـدنې مخنیـوي: کلـه چـې د یـو هیـواد پـولي واحـد باثباتـه او ولـګړو لخـوا پـه چټکتیـا سره اسـتعمالیږي نـو د نـورو هیوادونـو پـولي واحدونـه د اقتصـادي جریـان څخـه وځـی چـې دا د یـو هیـواد د پـولي ثبـات لپـاره ډیـره اړینـه خـبره ده . څـومره چـې زمـونږ خپـل پـولي واحـد جریـان تـه داخلیـږي پـه هماغه اندازه بهرني اسعار د جریان څخه وځي.

د یـو هیـواد پـولي واحـد د هغـه هیـواد ملـی هویـت او شـناخت دی:د مـلي پـولي واحـد بانکنوټونـه مـلي هویـت یـا شـناخت هـم دی پـه دې مانـا چـې د یـو هیـواد د حـریم شـناخت پـه مـلي بـانکنوټونو سره کیـږي، مـثلا کـه پـه عـادي ډول یـو مثـال ورکـړو چـې یـو څـوک داسـې یـو ځـای تـه لاړ شي چـې هـیڅ هغـې سـاحې سره بلـدیت ونلـري خـو چـې پـه بـازار کـې د پیسـو نوعیـت وګـوري نـو اټکـل کـوي چـې دا پیسـه د کـوم هیـواد پیسـه ده، پـه دې سره پـه اسـانئ سره پوهیـدلای شي چـې چرتـه یم.هغـه پـه بـازار کـې د چلیـدونکو پیسـو څخـه پـوهیږي چـې دا کومـه سـاحه ده مـثلا کـه پـوه شي چـې بـازار کـې هنـدي کلـدارې چلیـږي نـو اټکـل کـوي چـې د هنـد کومـه سـاحه کـې یـم یـا کـه پـوه شي چـې روسي روبـل بـازار کـې مـروج دي نـو انـدازه لګـوي چـې د روسـیې کومـه سـاحه کـې یـم نـو ځکـه ویـلای شـو چـې د هـر هیـواد پـولی واحـد د هغـه هیـواد مـلي هویـت تثبیتـوي او دا ډیـره اړینـه ده چـې د یـو هیـواد د حریم په ټولو بازارونو کې د هغه هیواد پولي واحد چلښت ولری.

د پیسـو اقتصـادي جریـان : کلـه چـې د یـو هیـواد پـولي واحـد پـه هیـواد کـې د ټولـو وګـړو لـه لـورې همزمانـه اسـتعمالیږي نـو د پیسـو چټـک اقتصـادي جریـان رامنځتـه کیـږي چـې چټـک اقتصـادي جریـان د پیسـو د اقتصـادي فعـالیتونو د چټکتیـا لامـل کیـږي . د پیسـو پـه جریـان کـې اچـول دومـره مهـم دي لکـه څنګـه چـې پـه بـدن کـې د وینـې جریـان مهـم دی، کـه چرتـه وینـه پـه بـدن کـې جریـان ونلـري او د زړه لـه لـوري پمـپ نشيـ نـو بـې فایـدې ده، همـدا شـان کـه چرتـه پیسـې پـه خزانـو کـې پرتـې واوسـې او جریـان کـې وانـه چـول شي نـو هـیڅ مانـا نلـري، پیسـې بـه پـه جریـان کـې د تقاضـا پـه کتلـو سره جریـانی کـې اچـول کیـږي او ارزش تـه پـه کتـو یـې پـه مقـدار

کـې د دقیـق مـرور څخـه وروسـته انـدازه کمیـږي او زیـاتیږي، دا بیـا د یـو مرکـزي بانـک پـه تصـمیم پـورې اړه لـري چـې څـومره پیسـې د پـلان مطـابق بایـد پـه جریـان کـې واچـول شي او څـومره راوویسـتل شي، پـه هـر صـورت پیسـه چـې پـه جریـان کـې وي نـو د اقتصـادي پرمختـګ د باثبـاتۍ او رامنځتـه تـګ لپـاره ډیـره ممـد او ښـه واقـع کیـږي.د یـوې پیسـې داخـلي او بهرنـی ارزښـت هغـه وخـت باثباتـه سـاتل کیـدای شي چـې د هیـواد وګـړي پـرې پـه کاروبـاري او سـوداګریزو معـاملاتو کـې راکـړه ورکـړه وکـړي او پیسـه پـه ګـردش کـې راولي، پـه ګـردش یـا جریـان کـې د پیسـو سـاتل پـه اصـل کـې د پیسـو هغـه صـفت ثـابتوي چـې پیسـه د ټولـو لپـاره چـې پـه مـلي سرحـداتو کـې ژونـد کـوي، یـوه پیسـه ده.همـدا شـان د پیسـو بهرنـی ارزش هغـه وخـت باثباتـه سـاتل کیـدای شي چـې د داخـلي ارزش د ثبـات لـه اړخـه پیسـه قـوي واوسي نـو هلـه بیـا د بهرنیـو اسـعارو د تبـادلې پـه بـازار کـې هـم د پیسو ارزش قوي پاتې کیږي.

د پیسـو چلښـت د پیسـو سـیالیت ښـیي:د پیسـو چلښـت پـه هیـواد کـې دا معنـا لـري چـې پیسـې سـیالیت لـري پـه دې معنـا چـې پـه هیـواد کـې خپلـو پیسـو تـه انسـان هـر وخـت لاسرسي پیـدا کـوای شي دا د یـو ښـه پـولي واحـد صـفت دی چـې پـه جریـان کـې د موجودیـت لـه برکتـه یـې د هیـواد ټـول اتبـاع ورتـه لاسرسـی پیـدا کـوای شي خـو که چرته جریان کې نه وي نو دا صفت د پیسو بیا دملاحظې وړ ګنګل کیږي.

بایـد لـه یـاده ونـه باسـو چـې پـه یـو هیـواد کـې د هغـه هیـواد د پـولي واحـد نـه کارېدنـه هـم زیانونـه لـري چـې تـرې داسې یادونه کوو:

مـلي پـولي واحـد چـې کـوم ځـای کـې نـه کـارول کیـږي نـو پـه هغـه ځـآی بانـدې د پـولي سیاسـت د وسـایلو تـاثیر هـم نـه وي، ځکـه د پـولي سیاسـت تـاثیر پـه هغـه ځـای وي چرتـه چـې مـلي پـولي واحـد کـارول کیـږي. لکـه څنګـه چـې پـوهیږو چـې د مـلي پـولي واحـد د نشرـ او خپـراوي مسـولیت د مرکـزي بانـک وي او همـداسي د پـولي سیاسـت د جوړولـو مسـولیت هـم د مرکـزي بانـک پـورې تـړاو لـري نـو ویلـو شـو چـې پـولي سیاسـت پـه هغـه وخـت کـې ښـه پایلـه ورکـولای شي چـې کلـه پـه تمامـه مانـا د عمـلي کیـدو لپـاره یـې شرایـط برابـر وي، شرایـط برابـر پـه دې مانـا چـې د یـو هیـواد پـولي واحـد د هماغـه هیـواد پـه خپـل حـریم کـې چلښـت ولـري او د هغـه هیـواد خلـک یې په خپله راکړه ورکړه کې وکاروي.

مـلي پـولي واحـد د یـو هیـواد مـلي هویـت وي پـدې معنـی کـه چرتـه پـه یـوه سـیمه کـې مـلي پـولي واحـد نـه چلیـږي، نـو معلـومیږي چـې دغـه سـیمه پـه معنـوي لحـاظ زمـونږ د مـلي هویـت څخـه وځـي، کـه عـادي مثـال ورکـړو چـې کـه چرتـه څـوک پـه مـونږ سـترګې پټـې کـړي او یـو څـو سـاعته وروسـته مـو یـو ځـای تـه ویسيـ چـې بیخـي یـې مـوږ نـه پیژنـو ، نـو چـې کلـه بـازار تـه لاړ شـو نـو د کرنسيـ یـا د پـولي واحـد د چلښـت څخـه معلومـووو چې دغه ځای کوم ځای دی.

د مـلي پـولي واحـد د نـه رواج بـل زیـان دا دی چـې د حکومـت حاکمیـت تـر پوښـتنې لانـدې راځـي ځکـه د حکومت دحاکمیت سیمه کې باید د هماغه حکومت پولي واحد جریان کې واوسي،

په نړۍ کې کاغذي پیسې د لمړي ځل لپاره په چین کې د 618 او 907 میلادي کالونو تر منځ رامنځته شوي دي، چینایانو په دغه عرصه کې د تجارت د اسانتیا لپاره کاغذي بانکنوتونه رامنځته کړل.دچینایانو څخه وروسته اروپا دوهمه منطقه وه چې سوداګرئ کې یې د کاغذي پیسو څخه استفاده کول شروع کړل. او همدا شان ورو ورو دا سلسله د نړۍ ټولو هیوادونو تدریجا وغزېده.

لکه د نورو هیوادونو پشان د افغانستان پولي واحد هم ځانته تاریخچه لري چې تر ېپه لاندې توګه یادونه کوو:

په افغانستان کې لمړنی کاغذي بانکنوټ په 1298 هـ ش کال کې د شاه غازي امان الله خان په دوره کې د یوې کابلي روپۍ په ارزښت چاپ شو.

د دې پیسو په ښي اړخ کې ، د افغانستان دحکومت نما ( محراب او منبر) او په منځ کې یې د اماني حکومت نښان او په چپ اړخ کې یې، (یک روپیه کابلی) عبارت په فارسي ژبې لیکل شوی وو.

د دې پیسې په لاندینۍ برخه کې په فارسي لیکل شوي وو چې (درجمع خزانه های دولت، نوت هذا بمبلغ مندرج اش منظور است.)



منبع: د افغانستان بانک د پیسو د نشر او څآرنې آمریت

یو کال وروسته همدغه بانکنوټونه یو ځل بیا نوي چاپ شول ولې دا ځل یې په رنګ او سریال شمیره کې تغیر راغی



منبع: د افغانستان بانک د پیسو د نشر او څآرنې آمریت

کال وروسته ، بیا یک روپیه کابلی بغیر د سریال شمیرې نه چاپ شول



منبع: د افغانستان بانک د پیسو د نشر او څآرنې آمریت

او په همدې کال کې جدا پیسې د 5، 50 او 100 کابلي روپيو په شکل چاپ شواو تر 1304 هـ ش دغه پیسې مروجې وې .
په 1304 هـ ش کال کې په افغاني پیسو کې سمونونه رامنځته شول او بعد له هغې نه د افغانستان پولی واحد د روپۍ نه افغانۍ ته تبدیل شو.

د حبیب الله خان کلکاني په حکومتي وخت کې (1307) نوې پیسې خپرې شوې او
هماغه د امان الله خان  د وخت پیسو د نوي بادشاه  په ځآنګړي مهر سره جریان پیدا کړ.
اما په دغه بانکنوټونو کې د حکومتي نشان په ځای کې د حبیب الله خان مهر ( خادم دین رسول الله ) حک شوی وو.



منبع: د افغانستان بانک د پیسو د نشر او څآرنې آمریت

په کال 1312 هـ ش کې ظاهرشاه واک ته ورسیده او د افغان ملی بانک تاسیس شو.

ددې بانک د تاسیس سره همزمان، د ظاهرشاه د دوران اولنۍ پیسې چاپ او جریان کې
واچول شوې.دا پیسې د 2،5.10،20،50،100 افغانیو په شکل خپرې شوې

په 1318 هـ ش کال د افغاني بانکنوټونو چاپ بلې مرحلې ته داخل شو. په دې کال کې د عبدالمجید زابلی په پیشنهاد د (د افغانستان بانک) تاسیس شو او د افغانستان د دولت پانگه د افغان ملی بانک نه د افغانستان بانک ته انتقال شوه.

په 26 دلوه کال 1318 هـ ش دې بانک د اول ځآل لپاره د 2. 5،10،20،50،100،500،1000 افغاني بانکنوټونه چاپ کړل

په دې دوره کې مهم تغیرات په پیسو کې رامنځته شول او د بادشاه تصویر د پیسو په
مخ باندې وراضافه شول.
د ظاهرشاه د وخت په پیسو کې د (د ولت شاهی افغانستان ) د عبارت په ځای ( د افغانستان بانک ) عبارت اضافه شو.
د نوموړي وخت نه مخکې تر ټولو باارزشه بانکنوټ 100 افغانگي وو اما د هغې نه وروسته 500 او 1000 افغانۍ بانکنوټونه هم چاپ شول.




منبع: د افغانستان بانک د پیسو د نشر او څآرنې آمریت




منبع: د افغانستان بانک د پیسو د نشر او څآرنې آمریت

د سردار محمد داودخان قدرت ته د رسیدو سره سم په 1352 هـ ش کې مهمترین تغیرات چې د پیسو په چاپ کې رامنځته شو هغه دا وو چې د شاهي په ځای د جمهوري نشان اضافه شو  او د لرې شوي شاه په ځای د سردار محمد داود خان انځور په نوټونو کې ځای په ځای شول.
د جمهوري دورې په پیل کې (۱۳۵۲) هـ ش د 10-20-50-100-500-1000 افغاني بانکنوټونه په مختلفو رنګونو او طرحو سره چاپ شول



منبع: د افغانستان بانک د پیسو د نشر او څآرنې آمریت

د خلق او پرچم کمونستي حکومت په دوره کې هم د افغانستان بانکنوټونه د مختلفو تغیراتو شاهدان وو.

په پخوانیو دورو کې د حکومتونو په تغیر سره دا یو دود ګرځیدلی وو چې دوخت د حاکم او یا بادشاه انځور به په بانکنوټ باندې علاوه کیده. اما د کمونستي دورې په جریان کې مهمترین بدلون دا وو چې د بانکنوټونو نه د وخت د حاکم یا شاه انځورونه لرې شول.

د خلقیانو د حکومت په دوران کې ( نور محمد تره کی و حفیظ الله امین) په کال 1357 هـ ش کې د (خلق) د حکومتي نښه په بانکنوټونو باندې ځآی ونیوه،  ولې کله چې د پرچمیانو حکومت راغی نو په کال 1358 هـش د اول ځل لپاره دافغانستان د  مرکزي بنک رسمي نښان ( د افغانستان بانک)  په بانکنوټونو کې د حکومتي نښې ځآی ونیوه

 دې میتود په وروستیو دورو کې هم ادامه ولرله او تر اوسه پورې په بانکنوټونو باندې
د افغانستان د مرکزي بانک رسمي نشان په                                                 بانکنوټونو کې ښکاري



منبع: د افغانستان بانک د پیسو د نشر او څاَرنې آمریت

په افغانستان کې د مجاهدینو د دورې راتګ سره سم د لمړي ځل لپاره 5000 او 10000 افغانۍ بانکنوټونه  هم د نورو افغانیو سره یوځای شول.

افغانستان کې د طالبانو د رژیم پرمهال نوي افغانۍ چاپ نشوې ولې هماغه د مجاهدینو
د دورې پیسې دوران کې وې.
د طالبانو د دورې نه وروسته د وروستي حکومت لمړي کال کې هم چې د خلکو په رایه د کرزي په دوره مشهوره ده هم د مجاهدینو
د وخت پیسو رواج لره.



منبع: د افغانستان بانک د پیسو د نشر او څاَرنې آمریت

تر ټولو مهم کار چې د نوې دورې به وخت 1381 هـ ش کال د پولي ثبات او د
انفلاسیون څخه د خلاصون په موخه واخستل شو، د زړو بانکنوټونو راټولول او د نوو پیسو چاپ وو، چې یوه نوې افغانۍ د زرو زړو افغانیو سره په ارزش کې مساوي فرض شوه.
د افغاني بانکنوټونو په دغه دوره کې (1-2-5-10-20-50-100-500-1000) بانکنوټونه چاپ او چلښت لپاره جریان کې واچول شوې
تر اوسه پورې د دغو بانکنوټونو نه استفاده کیږي.
د یادوني وړ ده چې د 1-2-5 افغانۍ چې د مجاهدینو د وخت نه دوران نه وتلې وې، بیا رایج شوې ولې 5000 او 10000 افغاني بانکنوټونه د جریان نه وباسل شو. د اوسنۍ دورې افغاني بانکنوټونه هم د وخت په تغیر سره په رنګ، طرح، دیزاین او نور تغیرات لري
چې دغه ګامونه دجعلکارۍ او جعلي نوټونو د مخنیوي په خاطر وخت په وخت کیږي



منبع: د افغانستان بانک د پیسو د نشر او څآرنې آمریت

اوسمهال چې کوم افغاني بانکنوټونه جریان کې دی مرکزي بانک یې د چاپ او معیار به هکله کوټلي گامونه اخلي د هیوادوالو د اعتماد وړ گرځیدلي دي.

**ماخذونه.**


1. تمکین، تاج محمد، په ختیځ زون کې افغانۍ ولي نه کارول کیږي د ماسترئ تیزس، 1398 هجري شمسي، ننگرهار پوهنتون
2. د افغانستان بانک د پیسو د نشر او څارنې آمریت څخه لاسته راغلي معلومات
3. www.investopedia.com
4. En.m.wikipedia.org.wiki


www.dawatmedia24.com